حبيب وقار

نېټه 03/02/2010

# دا د اوس خبره نه ده

زموږ ګران هېواد افغانستان تل د بهرنيو هېوادونو د لاسوهنې ښکار شوی دی او همدارنګه زموږ هر مشر دا څرګنده کړې چې پلانی او پلانی هېواد زموږ په چارو کې کار کوي، خو هېڅ وخت په دې برخه کې پرېکنده درېځ غوره نه شو، بلکې همداسې د شك په توګه پاتې شوه.

افغانان د نورو هېوادونو پر خلاف يوه ډېره ځواکمنه غريزه چې لري هغه دا ده چې د نورو لاسوهنه او د نورو تسلط ورته د زغملو وړ نه دی، چې له همدې امله يې څو ځله انګرېزانو ته خوله ماتې ځواب وکړی او همدارنګه يې په نژدې پرون کې پخواني شوروي اتحاد ته خوله ماتوونکی ځواب ورکړ او له خونړۍ ماتې سره يې مخ کړ. خو له شوروي اتحاد سره هم له بريا وروسته او د جګړې په درشل کې د پاکستان ايران او ځينو نورو هېوادونو له نېغې لاسوهنې څخه خلاص پاتې نه شو. ټولې بهرنۍ مرستې چې له افغانستان سره کېدلې د پاکستانيو چارواکو له لورې ورته وېشل کېدې او پاکستانيو چارواکو افغان مشران په څو ډلو ووېشل څو له خپلواکۍ او شوروي له ماتې وروسته ونه شي کولای چې يو خپلواك او ملي حکومت را منځ ته کړي. خو د طالبانو د حکومت له ماتې څخه وروسته چې کله امريکا افغانستان اشغال کړ بيا هم پاکستان چپ کښېنناست او خپلو لاسوهنو ته يې دوام ورکړ، خو په زړه پورې دا ده چې امريکا وروسته له اتو کلونو ايله اوس وپوهېده، چې پاکستان د افغانستان په چارو کې لاسوهنه کوي او د دې ملت په بربادۍ کې لاس لري، افغان غميزه تل زموږ له ګاونډي هېواد پاکستان څخه منډې راوهي دا د اوس نوې خبره نه ده ځکه چې همدا پاکستان و چې د شوروي تر يرغل وروسته يې بيا هم افغان مشران د چوکۍ لپاره سره وجنګول او ټول هېواد په ځانګړي توګه کابل يې ورباندې دړې وړې کړ. اوس هم د افغان دولت ډېری مخالفين له پاکستان څخه تغذيه کېږي او مرکزونه يې په پاکستان کې دي.

په واشنګټن کې چارواکي دا مني چې د ستونزې يوه برخه په پاکستان کې ده. دوی اسلام اباد تر فشار لاندې راوستی، چې په قبايلي سيمو کې د طالبانو خلاف خپلې پوځي هلې ځلې پراخې کړي.

خو پاکستان د تروريزم ضد مبارزه کې خپل محدوديتونه لري. د پاکستان کورنۍ او بهرنۍ اوږد مهاله ستراتيژۍ او اقتصادي ګټې د تروريزم ضد مبارزه کې د اسلام اباد هلې ځلې محدودوي.

اسلام اباد تر اوسه يوازې پر هغو طالبانو بريدونه کړي، چې حکومت يې تهديد کړی او د هغو کسانو له فعاليتونو سترګې پټوي، چې له پولې پورې غاړه په افغانستان کې دولتي او بهرنيو ځواکونو باندې بريدونه کوي.

د پاکستان پوځ درې مياشتې پخوا په جنوبي وزيرستان کې پر هغو طالبانو بريدونه پيل کړل، چې په تېرو دريو کلونو کې په پاکستان کې د زرګونو کسانو او د پخوانۍ لومړۍ وزيرې بې نظير بوټو په وژلو تورن ګڼل کېږي.

د دغو پوځي عملياتو په ترڅ کې، چې اوس هم دوام لري په سيمه کې د طالبانو ډېرې اډې له منځه وړل شوې او د طالبانو زرګونه کسان له جنوبي وزيرستان څخه شړل شوي دي.

خو په ورځېږمه شمالي وزيرستان کې د سراج الدين حقاني او د ده د پاکستاني مرستيال حافظ ګل بهادر په مشرۍ د افغان او پاکستاني طالبانو اډې په ځای پاتې دي، دوی له شمالي وزيرستان څخه په افغانستان کې خپلې حملې تنظيموي.

د پاکستان د بهرنيو چارو پخواني وزير تنوير احمد خان، چې اوس په اسلام اباد کې د ستراتيژيکو مطالعاتو د مرکز مشر دی وايي، سره له دې چې واشنګټن افغانستان ته لا ډېر سرتېري استوي، خو اسلام اباد په افغانستان کې د امريکايي هلوځلو په برياليتوب جدي شک لري او د دغه شک تر ټولو لوی لامل دا دی، چې د امريکا ولسمشر بارک اوباما افغانستان ته د دېرشو زرو نويو سرتېرو لېږل له دغه هېواد څخه د امريکايي ځواکونو وتلو پورې تړلي دي.

اوس د اندېښنې خبره دا ده، چې کېدای شي طالبان په نږدې وخت کې د ناټو د ډېرو سرتېرو له بريدونو د ځان ساتلو لپاره د پاکستان قبايلي سيمو او يا د افغانستان غرنيو لېرې پرتو سيمو ته ستانه شي او اتلس مياشتې وروسته، چې امريکايي ځواکونه له افغانستان څخه خپل وتل پيلوي په ټول ځواك بېرته صحنې ته راشي او له تلونکو ځواکونو سره د يوې معاملې په پايله کې لږ تر لږه د کابل په حکومت کې ځان ته ځای پيداکړي.

د جرمني د خبري اژانس رپوټ زياتوي، چې دغه احتمال سره له دې چې لېرې برېښي، خو بيا يې هم پاکستان په دې قانع کړی، چې افغان طالبان د هند د نفوذ په وړاندې د خپلو راتلونکو پلويانو په توګه وساتي. د هند حکومت د ولسمشر حامد کرزي په اداره کې کافي نفوذ لري.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د اسلام اباد لپاره د اندېښنې وړ بله موضوع دا ده که چېرې ناټو له افغانستان څخه د خپلو سرتېرو د ایستلو په صورت کې په دغه هېواد کې د پاکستان ګټې تضمین کړي بیا هم اسلام اباد څنګه کولای شي، له واشنګټن سره د طالبانو خلاف خپله همکاري د پاکستان خلکو ته چې اکثر یې امریکایي ضد احساسات لري توجیه کړي.

خو پاکستان وایي، چې د طالبانو خلاف د جنګ په پراخولو کې ډېرې ستونزې لري. اوس پاکستان په دې بریالی شوی چې په افغانستان کې څه ډول لاسوهنه وکړي او څه ډول دا هېواد ټوټې ټوټې کړي، ځکه وایي چې تجربه د علم مور ده، اوس دوی په دې لاسوهنه کې دومره تجربه تر لاسه کړې چې په دې برخه کې عالمان شوي دي. هغه متل دی وایي چې یو پټی رشقه یې وخوړه ته اوس هم مړه بولي، دوی اوس په دې کار کې ښه مهارت تر لاسه کړی. که چېرې یې مخه ونه نیول شي نو لکه د دې څو لسیزو په څېر به افغان ګټې تل د دې هېواد تر ګواښ لاندې وي


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ